مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر نور احمد خالدی ۲۰۲۳/۰۲/۰۳

# غرضي تفسيرونو ته يو منطقي ځواب:

## (د اسمعيل يون لُيکنه د منير اکرم په ځواب)

د افغانانو په باب د مغرضو بهرنيانو غتې تېروتنه دا ده چې دوی له يوه ډېر تنګ ليدلوري افغانستان ته ګوري، بله تېروتنه يې دا ده چې هغه څوک د افغانانو د استازو په توګه معرفي کوي چې هغوی کې نه يوازې د افغانيت جوهر نه شته ، بلکې مخالفت يې هم کوي. دا څووم ځل دی چې د ښځو د تعليم مسله د يو شمېر بهرنيانو له خوا په داسې ډول مطرح کېږي چې کله له کلتور سره تړل کېږي او کله له مذهب سره.
څه موده دا موضوع له اسلامي شريعت سره غوټه شوه ، خو چې هلته يې د بنديز موجه دلايل و نه موندل شول ، نو بيا د کلتوري پلمو د لټون په لټه کې شول.حقيقت دا دی چې په افغانستان کې د ښځو پر تعليم اوسنی بنديز نه مذهبي صبغه لري او نه هم کلتوري. ځکه چې دا ډول بنديز نه د اسلام په څوارلس سوه کلن تاريخ او نه هم د افغانستان په پنځه زره کلن تاريخ کې کومه بېلګه لري. دا داسې يو ډول بهرنی سياسي توطيه بريښي چې غواړي د ملت د پرمختګ مخه ډب کړي او بيا د مذهب او کلتور په پلمو له خلکو اصلي توطيه هېره او تېره کړي. د افغانستان اکثره هغه سياستوال چې سياسي ليدلوری يې د افغانيت ، ملتپالنې او کلتوري ارزښتونو پر محور راڅرخېده، هغوی هېڅکله نه يوازې دا چې د نجونو د تعليم مخالفت نه دی کړی ، بلکې د هغه د پراختيا لپاره يې تر حده زياتې هلې ځلې کړې دي. ښه بېلګه يې د پيرروښان او د هغه ملي او روحاني تحريک دی. خوشال د هغه ملي فرهنګي غورځنګ ، د ميرويس نيکه ملي او فرهنګي پاڅون، د احمدشاه بابا ملي او مدني حرکت ، د غازي امان الله خان عمراني غورځنګ ، د نادرخان د ملي نجات پاڅون او پرمختيايي بهير ، د باچاخان د خدايي خدمتګارو ملي او مدني حرکت او داسې نور يې ګڼ شمېر مثالونه دي. دا داسې مثالونه دي چې د پنجاب په ټول تاريخ کې يې ببلګې نه شته.نو که منير اکرم، مولانا فضل الرحمن ، عمران خان او نور غرضي عناصر د ښځو پر تعليم اوسني بنديز ته هر ډول غرضي تفسير ورکوي ، خو څوک چې د قضيې پر ژورتياوو خبر دي هغه پر دې پوه دي چې د مسلې سر د ( ای ايس ای ) تر درشله رسي. له تېرې نيمې پېړۍ راهيسې چې په هېواد کې د ښوونځيو د ړنګونې او سوځونې منظم بهير تعقيبېږي ، د عقل خاوندان پر دې پوهېږي چې دې کې د چا لاس دی. د نړۍ او سيمې يوه غټه بې انصافي دا ده چې يو سوچه مذهبي حرکت ، په مطلق ډول په يو قوم پورې تړي. اوسني واکمن په ډاګه وايي چې زموږ مبارزه د الله ج د نظام د حاکميت او اسلامي شريعت د تطبيق لپاره ده؛ نه قومي مفکوره لرو او نه ملي انګېزه ، خو مغرضی کړۍ بيا وايي چې نه دوی پښتانه دي او د پښتنو استازيتوب کوي. اوسني واکمن يې له استازۍ منکر دي، خو د پښتنو لرې او نږدې دوښمنان بيا وايي چې نه همدا تاسې د پښتنو استازي ياست. له دې تور او تورونو څخه هدف دا دی اوسني واکمن چې د ښخو د تعليم د مخنيوي په ګډون په ګڼو افراطي هڅو کې ډوب دي او نړۍ سره يې پخه مقاطعه پيل کړې ، نو دا انزوا او بيا احتمالي ټکر به د دې سبب شي چې د اوسنيو ملايانو واکمني يو ځل بيا ړنګه شي ، په داسې يو حالت کې به د پښتنو د سياسي حذف او ځپنې لپاره يو ځل بيا د تېر په څېر ښه زمينه برابره شي. په داسې حال کې چې اوسني چارواکي وايي زموږ هر عمل د اسلامي شريعت په حدودو کې تر سره کېږي ، دا چې د دوی ادعا سمه ده که ناسمه ، خو له شريعت څخه د دوی تعبير همدغسې دی. دا نو د نړۍ د يو نيم مليارد مسلمانانو او ړ اسلامي علمي مرکزونو ديني مسوليت هم دی چې اوسني واکمن قانع کړي چې کوم اعمال يې له شريعت سره سر خوري او کوم ناسم دي. د ټول افغان ولس په تېره د پښتنو له معتدل ، مبارز او ملايم کلتور سره د يو مشخص مذهبي حرکت د اعمالو غوټه کول ، له هغه قوم سره د شعوري او ستراتيژيکي دوښمنۍ پرته بله مانا نه لري.
د ښاغلي منير اکرم په شان اشخاصو ته به له نورو ګڼو مثالونو ور تېر شو ، خپل ځان او خپله کورنۍ به د پښتنو افغانانو د يوې عادي ببلګې په توګه وړاندې کړم. سره له دې چې په لسګونو زره داسې افغان کورنۍ شته چې زه په تعليمي برخه کې د هغوی ګرد ته هم نه شم رسېدلی، خو ځان او کورنۍ ځکه د مثال په توګه وړاندې کوم چې د مثال توضيح راته اسانه شي.
۱ -زه محمداسمعيل يون يم ، تر دوکتورا پورې مې په خپل هېواد کې لوړې زده کړې، د پوهاندۍ علمي رتبه مې تر لاسه کړې، تر (۵۵) عنوانو زيات اثار مې ليکلي او چاپ کړي، د خپلو ملګرو په مرسته او ګډون مې د نورو ليکوالو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پاژوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تر (۵۰۰) عنوانو زبات علمي اثار ایډیټ او چاپ کړي او تر (۱۲۰۰) زیات علمي سیمینارونه، غونډې او ورکشاپونه مو جوړ کړي دي.
۱ -ارین یون: دا مي مېرمن ده. په ژبو او ادبیاتو کې یې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې کړي ، درې دورې په ولسي جرګه کې د خلکو منتخه استازې وه.دري عنوانه ادبي اثار یې هم چاپ شوي دي.
۳ -هیله: دا مي مشره لور ده، د کابل پوهنتون حقوقو پوهنځی او کابل کې امریکایي پوهنتون یې لوستي، په انګلستان کې یې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې کړي او اوس د دویمې ماسترۍ د تر لاسه کولو نیت لري.
۴ -سمسور : دی مي مشر زوی دی، په هندوستان کې یې د لیسانس او انګلستان کې یې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې کړي دي.
۵ -سوله: سوله مي دویمه لور ده. په کابل کې یې ( خانه نور) ښوونځی لوستی او اوس په ترکیه کې د نړیوالو اړیکو په برخه کې لوړو زده کړو ته دوام ورکوي.
۶ -ودان: دی مي کشر زوی دی.د کابل ( خانه نور) ښوونځي څخه فارغ شو او اوس په ترکیه کې له خپلې خور سره په یو پوهنتون کې لوړې زده کړې کوي.
نو اوس دې ښاغلی منیر اکرم او داسي نور ښاغلي ووایي چې موږ پښتانه افغانان د تعلیم مخالف یو ؟؟ زه د لسګونو زره افغان کورنیو یوه کوچنۍ بېلګه یم ، که جنګونه ، بندیزونه او نورې ناخوالي نه وای ، نو هرې افغاني کورنۍ به همدغسې او ان تر دې هم په لوړه کچه تعلیم کړی وای.نو دې ډول ښاغلو او اغلو ته باید وویل شي چې تاسو ته د پښتنو او په ټوله کې د افغانانو د کلتور د تعبیر او تفسیر صلاحیت چا درکړی؟ د هر چا د کړو او غلطو تعبیرونو پر تعبیر او تفسیر موږ پوهېږو. موږ پر سرېټوب هم پوهېږو ، د تعلیم پر ارزښت هم، د دښمن پر منافقت هم خبر یو .خو د زماني جبر مروړلي یو، خپل لاس یې راته په خوله کې راکړی دی. اوس د تدبیر تقاضا دا ده چې د تعلیم بندیزونه به له منځه وړو، ځان به هم پېژنو او جهان به هم او شیطان به هم. سختې ورځې په مخکې دي ، خو پر همدې لوري تکلونه او هوډونه هم پیاوړي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ